- د پناه غوښتنې لپاره غوښتنلیک سپارل تاسو ته په بلغاریا کې د فاینل پرېکړې تر نیول کېدو پورې **د پاتې کېدو حق درکوي.**

- هېڅ<ins></ins>ا ته د خپلې پناه غوښتنې د غوښتنلیک لپاره **پیسې مه ورکوئ!**





دغه مواد د پناه غوښتنې لپاره د اروپايي ټولنې د اداري (European Union Agency for Asylum, EUAA) په ملاتړ سره چمتو شوی دی.

# Which are the steps of the asylum procedure?




دغه مواد د پناه غوښتنې لپاره د اروپايي ټولنې د ادارې (European Union Agency for Asylum, EUAA) په ملاتړ سره چمتو شوي دي.

# د نوملیکنې په بهیر کې به څه وشي؟



Your fingerprints will be taken.



You will be photographed.



An officer will ask about your personal details.



You must submit any identity documents that you have.



You may see a doctor.



دغه مواد د پناه غوښتنې لپاره د اروپايي ټولنې د اداري (European Union Agency for Asylum, EUAA) په ملاتړ سره چمتو شوي دي.

# د نوملیکنې په بهیر کې به څه وشي؟



ستاسو **د ګوتو نښان به** واخیستل شي



ستاسو **عکس به واخیستل** شي

دغه مواد د پناه غوښتنې لپاره د اروپایي ټولنې د ادارې (European Union Agency for Asylum, EUAA) په ملاتړ سره چمتو شوی دی.

# د نوملیکنې په بهیر کې به څه وشي؟




تاسو باید د **هویت هغه اسناد** وسپارئ چې له ځان سره یې لرئ



مور به ستاسو نوم، هېواد، د زېږون نېټه او نورو جزییاتو په اړه **پوښتنه** وکړي

دغه مواد د پناه غوښتنې لپاره د اروپايي ټولنې د اداري (European Union Agency for Asylum, EUAA) په ملاتړ سره چمتو شوی دی.

**که اړینه وي**، نو یو شفاهي ژباړن به هم حاضر وي.



که د شفاهي ژباړن پر خبرو **نه پوهېږئ**، چاروآکو ته ووايئ.

دغه مواد د پناه غوښتنې لپاره د اروپايي ټولنې د ادارې (European Union Agency for Asylum, EUAA) په ملاتړ سره چمتو شوي دي.

دا ستاسو ملکفیت دی او پر ګټه مو هم ده چې له چارواکو سره **همکاري** وکړئ او ریښتیا ووایئ.



که تاسو له دغو پروسیجرونو سره مطابقت کول **ردوئ**، نو دغه کار ښایي ستاسو پر غوښتنلیک منفي اغېز وکړي.

دغه مواد د پناه غوښتنې لپاره د اروپايي ټولنې د ادارې (European Union Agency for Asylum, EUAA) په ملاتړ سره چمتو شوی دی.

## دا د پناه غوښتونکو مکلفیت دی چې چارواکو ته **سم** او **رښتيني** معلومات ورکړي.



که په خپل ملکیت کې داسې اسناد نه لرئ چې ستاسو د هویت، تابعیت او بلغاریا جمهوریت ته د سفر او هغه ته د ننوتلو څرنګوالي د ثابتولو لپاره کار وکړي، نو تاسو باید **یوه اعلامیه ورکړئ**.

**دغه مواد د پناه غوښتنې لپاره د اروپايي ټولنې د ادارې (European Union Agency for Asylum, EUAA) په ملاتړ سره چمتو شوي دي.**

تر نوملیکنې وروسته **نه شئ کولای** خپل جزیات بدل کړئ، خو په هغه صورت کې چې **رسمي** اسناد ولرئ.




د نوملیکنې په بهیر کې **ناسم معلومات** یا **اسناد** ورکول د ملي قانون له مخې د جرمي مسؤلیت سبب کیږي.

دغه مواد د پناه غوښتنې لپاره د اروپايي ټولنې د اداري (European Union Agency for Asylum, EUAA) په ملاتړ سره چمتو شوی دی.

ډاډمنه کړئ چې د نوم‌لیکنې او مرکې په بهیر کې ټول چمتو شوي **معلومات** او **اسناد** به **په کلکه محرم** وي.



**هېڅ ډول معلومات** یا **اسناد** به ستاسو د هېواد له داسې چارواکو، نورو غوښتونکو یا کوم دریم اړخ سره **شریک** نه شي چې ممکن ستاسو امنیت ته زیان ورسوي. یاد موارد به **یوازې** له هغو وړ اروپایي چارواکو سره شریک شي چې **ستاسو د پناه غوښتنې غوښتنلیک مسؤلیت لري.**




# د ډوبلین پروسیجر

- که تاسو په بلغاریا کې د پناه لپاره غوښتنه وکړئ، ممکن ستاسو **غوښتنلیک د بل هېواد لخوا وڅېړل شي.**
- ستاسو د غوښتنلیک **مسؤل هېواد** د یوه اروپایي قانون له مخې ټاکل کېږي چې د **ډوبلین قوانین** ورته وايي.
- دا قانون په 31 هېوادونو کې معتبر دی چې "د ډوبلین هېوادونه" بلل کېږي.

## که له لاندې بیانونو څخه یو بیان ستاسو په اړه تطبیق شي، نو تاسو ممکن د **ډوبلین له پروسیجر** څخه تیر شئ:



تاسو د **کورنۍ داسې غړی** لرئ چې په بل **ډوبلین هېواد** کې ورته پناه ورکړل شوې وي یا د پناه غوښتونکی وي.



تاسو ته د بل **ډوبلین هېواد** له لوري **ویزه یا د استوګنې اجازه** درکړل شوې وي.



ستاسو **د ګوتو نښانونه** په **بل ډوبلین هېواد** کې اخېستل شوې وي.



تاسو **داسې هېواد ته تللي یاست یا ترې تېر شوي یاست چې د ډوبلین هېواد** دی.

دغه مواد د پناه غوښتنې لپاره د اروپايي ټولنې د اداري (European Union Agency for Asylum, EUAA) په ملاتړ سره چمتو شوی دی.

د **شخصي مرکې** په بهیر کې به له تاسو وغوښتل شي چې هغه دلیلونه په تفصیل سره وړاندې کړئ چې له مخې یې د **نړیوال خوندیتوب** غوښتنه کوئ.



که تاسو **ملاتړي اسناد** یا **شواهد** لرئ، په مهربانۍ سره یې موږ ته راکړئ.

دغه مواد د پناه غوښتنې لپاره د اروپايي ټولنې د ادارې (European Union Agency for Asylum, EUAA) په ملاتړ سره چمتو شوی دی.

ستاسو د شخصي مرکې په بهیر کې به یو **شفاهي ژباړن** حاضر وي چې په هغه ژبه به شفاهي ژباړه کوي چې تاسو پرې پوهیږئ.



تاسو د دې غوښتلو حق لرئ چې مرکه مو د هغه **مرکه کوونکي** لخوا ترسره شي چې تاسو ترجیح ورکوئ.

په مهربانۍ سره **تر مرکې مخکې** مو خبر کړئ چې ایا غواړئ دا غوښتنه وکړئ – **هر کله چې امکان** ولري، درناوی به ورته وشي.

دغه مواد د پناه غوښتنې لپاره د اروپايي ټولنې د اداري (European Union Agency for Asylum, EUAA) په ملاتړ سره چمتو شوی دی.

یو داسې کس چې تاسو ته قانوني مرسته برابروي **(وکیل یا قانوني استازی)** کولی شي حاضر وي، که ورته اړتیا لرئ.

دا ستاسو حق دی چې د پناه غوښتنې پروسې **په هر پړاو کې** له وکیل یا قانوني استازي سره سلا مشوره وکړئ.



وکیل یا قانوني استازی کولی شي ستاسو د غوښتنلیک، د پناه غوښتنې پروسې، رسمي اړیکو او نورو مواردو په برخه کې **مرسته وکړي**.

وکیل یا قانوني استازی له چارواکو څخه **خپلواک دی**.

دغه مواد د پناه غوښتنې لپاره د اروپایي ټولنې د اداري (European Union Agency for Asylum, EUAA) په ملاتړ سره چمتو شوی دی.

که تاسو په 30 ورځو مې له **عاقلانه دلیلونو وړاندې کولو پرته** په خپله شخصي مرکه کې ګډون ونه کړئ، SAR به ستاسو د قضیې پای ته رسولو پرېکړه صادره کړي.



په ځینو شرایطو کې، کولی شئ په 9 میاشتو مې د خپلې **قضیې د بیا پرانستلو** غوښتنه وکړئ.

ستاسو د غوښتنلیک په اړه پرېکړه **څو میاشتې** وخت نیولی شي.



پرېکړه به په لیکلي ډول په لاندې لارو چارو سره ورکړل شي:

- **تاسو ته په حضوري توګه**، له هغه محتویاتو سره چې تاسو ته په هغه ژبه کې لوستل کیږي چې تاسو پرې پوهیږئ، یا
- ستاسو **وکیل یا قانوني استازي** ته ورکړل شي،که یې لرئ.

دغه مواد د پناه غوښتنې لپاره د اروپايي ټولنې د اداري (European Union Agency for Asylum, EUAA) په ملاتړ سره چمتو شوی دی.

# که له تاسو سره اړیکه **ونه شو نیولای**، نو څه به کېږي؟



که تاسو د **راجستر شوي پست له لارې یو لیک** ترلاسه کړئ او ترلاسه کولو وروسته په 7 ورځو کې SAR ته رانه شئ، ستاسو د پناه غوښتنې قضیې پرېکړه به **سپارل** شوې وګڼل شي، حتی که تاسو لوستلې نه وي.

که لیک له دې امله بېرته SAR ته واستول شي چې ترلاسه کوونکي ته **نه شي** تحویل کېدای، پرېکړه به بیا هم **سپارل** شوې وګڼل شي.

دغه مواد د پناه غوښتنې لپاره د اروپایي ټولنې د اداري (European Union Agency for Asylum, EUAA) په ملاتړ سره چمتو شوی دی.

که پرېکړه **مثبته** وي، تاسو ته به **نړیوال خوندیتوب** درکړل شي.



که تاسو ته د **کډوالۍ وضعیت** درکړل شي، کولای شئ د **استوګنې اجازه** او د سفر اسناد ترلاسه کړئ.

د **کډوالۍ وضعیت** هغه وخت په رسمیاتو کې پېژندل کېږي کله چې یو څوک په خپل هېواد کې د نژاد، دین، ملیت،
سیاسي نظر یا په یوې ځانګړې ډلې پورې اړوندوالي له امله ځورول کېږي او دولت یې ساتنه **نه** کوي.

دغه مواد د پناه غوښتنې لپاره د اروپايي ټولنې د ادارې (European Union Agency for Asylum, EUAA) په ملاتړ سره چمتو شوی دی.

که پرېکړه **مثبته** وي، تاسو ته به **نړیوال خوندیتوب** درکړل شي.




که تاسو ته **بشري وضعیت** درکړل شي، کولی شئ د **استوګنې جواز** ترلاسه کړئ.

**بشري وضعیت** هغه مهال ورکول کیږي کله چې یو څوک په خپل هېواد کې د شخړې یا جدي زیانونو نورو ډولونو له امله له جدي خطر سره مخ وي، او دولت یې ساتنه نه کوي.

# که تاسو له پرېکړې سره موافق نه یاست، نو څه به کېږي؟



که تاسو له پرېکړې سره **موافق نه یاست**، **7 یا 14 ورځې** لرئ – له پروسیجر سره سم - د محکمې پر وړاندې پر پرېکړه باندې تجدیدنظر وکړئ

دغه مواد د پناه غوښتنې لپاره د اروپايي ټولنې د ادارې (European Union Agency for Asylum, EUAA) په ملاتړ سره چمتو شوی دی.

تاسو د پناه غوښتنې د پروسیجر په بهیر کې هر وخت حق لرئ چې خپل **غوښتنلیک بېرته واخلئ**
او ممکن خپل هېواد ته **په خپله خوښه بېرته ستنېدو** کې مرسته ترلاسه کړئ.



په دې حالت کې به ستاسو د پناه غوښتنې پروسیجر **ودرول شي** او تاسو به **نور د پناه غوښتونکي**
**په توګه په هېواد کې د پاتې کیدو** حق ونه لرئ.

دغه مواد د پناه غوښتنې لپاره د اروپايي ټولنې د اداري (European Union Agency for Asylum, EUAA) په ملاتړ سره چمتو شوی دی.